د افغانستان بانک

آمریت عمومی نظارت از مؤسسات مالی غیر بانکی

د صرافی او جواز ورکولو مرستیالیت

د جواز ورکولو مدیریت

شماره: ۲۸۹۸ ۲۲۰۶/۲۲۹۹

تاریخ: ۲۷/۳/۱۴۴۷ ۱۴۰۴/۵/۲

بسم الله الرحمن الرحيم

**د برېښنايي پيسو د قدر وړ مؤسسو ته!**

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته!

ماهیت: متحدالمال

موضوع : د کارکوونکو د ګمارلو په اړه

په ډېر درناوي سره ليکل کيږی:

د برېښنايي پيسو مؤسسو د کړنو د تنظیم او څارنې مقررې د اتلسمې مادې (۳) فقرې په اساس برېښنايي پيسو مؤسسې مکلفې دي چې کليدي کارکوونکي، په ځانګړې توګه د څار پلاوي، عامل پلاوي، د قوانينو د رعايت او پيروی مسئول د افغانستان بانک ته را وپېژني.

په دې توګه، جواز لرونکې مؤسسې اړې دي چې د کليدې کارمندانو په ګمارنه کې د پورته ذکر شوې مقررې د شرطونو تر څنګ لاندې ټکی هم په جدي توګه رعايت کړي:

1. هغه کارمندان چې کليدي بستونو لپاره ټاکل کيږي بايد د دندې د پيل څخه مخکې د تاييدئ لپاره د افغانستان بانک ته راوپيژندل شي.
2. تاييد شوی کارمند د دندې څخه د استعفاء په صورت کې، تر ٦ مياشتو پورې په اړونده سکتور کې کار نشي کولای.
3. مؤسسې نشي کولای چې بغير د څار پلاوي او د عامل رئيس څخه، په نورو بستونو کې بهرني اشخاص وګماري.
4. مؤسسې دې په اړونده ادارو کې د رسمي طی مراحلو څخه وروسته د بهرني کارمند څخه د دندې استحصال وکړي.

پورته موضوع ستاسو د قدر وړ مؤسسې سره د اړينو ورستيو کړنو د ترسره کولو لپاره شريکه شوه.

د افغانستان بانک ستاسو په چارو کې د لا برياوو غوښتونکی دی. والسلام

۱۴۴۷/۳/۲۶

صديق الله خالد

**د افغانستان بانک لومړی مرستيال**

ی سیناوات، کابل افغانستان/ تیلیفون۲۱۰۴761 (۲۰) ۰۰۹۳/ ایمیل: info@dab.gov.af/ ویب سایتw.dab.gov.af
ې شبکې فیسوک - د افغانستان بانک / تویټر - @AFGCentralbank / انستاګرام - AFGCentralbank